اگرچه وي احساس تکلیف ومشقت هم بکند، بهرصورت این توجیه تمهیدي است براي برداشتن رخصت از تندرست مقیم وبراي واجب گردانیدن روزه بگونه مطلق . تنها درمورد شیخ فاني که روزه اورا درنهایت مشقت مي اندازد وبراي اواین امید نیست که درآینده چنان نیرویي بیابد که ازعهده قضاء آوردن روزه بگونه، کامل برآید این حکم باقي است .حضرت امام مالك (رح) ازحضرت انس (رض) روایت مي کند که وي به حدي پیرشده بود که روزه گرفته نمي توانست وفدیه میداد . حضرت عبدالله ابن عباس (رض) مي فرماید : این آیه مبارك منسوخ نیست ، بلکه درباره شیخ فاني وپیرزن است که آنها نمي توانند روزه بگیرند، للذا بجاي هر روز روزه مسکیني راطعام میدهند . ازابن ابي لیلي نقل قول شده است که وي دررمضان پیش عطا(رح) آمد، عطا(رح) روزه رامیخورد ودراین حال گفت : ابن عباس (رض) گفته است : که بانزول آیه (۱۸٤) سوره بقره آیه که بعداً مي آید جز درمورد شیخ فاني منسوخ شد. به این معني که شیخ فاني میتواند به جاي هرروزیکه روزه میخورد مسکیني راطعام بدهد . (چون کسي ازشما دراین ماه مقیم باشد، آنرا روزه بگیرد) . تشویق دیگري براي شخص تندرست ومقیم دراین امربعمل آمده است همانا یادآوري ازنزول قرآن دراین ماه است یابه این معني که نزول قرآن مجید در این ماه آغاز شده یابیشتر قسمت هاي قرآن مجید دراین ماه نازل شده است . گرفتن روزه دراین ماه مبارك معني اداي شکرنعمت پروردگار عالم استکه قرآن را براي رهنمایي بشریت بحیث بزرگترین نعمت فروفرستاده است. اما درقسمت اینکه چه کساني میتوانند شامل رخصت از روزه باشند و قضایي نیاورند علاوه ازشیخ فاني همه مریضانیکه امکان صحتیابي آنهامتصورنباشد ومادام العمرمریض بوده وطاقت گرفتن روزه را نیابند واگرروزه بگیرند مرض شان شدت یابدویااسباب مرگ شان فراهم آید اما درمورد مسافر ضرورت جدي برآنست که مسافر پس ازختم مسافرت اراده روزه بنماید واینکه درکدام موقع به اداي قرض خویش میپردازد مخیراست ولي ازنظر علما سزاوار اینست که زودتربه اداي قضایي اقدام نماید زیرا برعمر بشري اعتباري نیست وباید اینرا علاوه کرد که حتمي نیست که قضایي روزه بصورت مسلسل وپیهم باشد بلکه بشکل توټي نیز مي شود قضایي روزه را ادانمود .

دربرکت دعاي روزه دار حضرت محمد (ص) میفرماید که روزه دار درهنگام افطار از چنان دعایي برخورداراست که رد نمي شود. ودر جاي دیگرمیفرماید : سه نفراندکه دعاي شان رد نمي شود : امام عادل، روزه دار درهنگام افطار، مظلوم .

صحت

دسګرټ څکولو ضررونه اوتداوي یې

لومړی برخه

زموږځوان لوستونکی ښاغلی داکترفیض محمد عاطف تریورته عنوان لاندی د ځوانانو د ژغورنی له پاره یوتحقیقی اوعلمی مطلب ژباړلی او رالیږلی ئی دی چی موږ یې د ځوانانو په ځوصفحو کی نشرته وسپارو .

سګرټ څکول هغه فساد دی چه موږ کولای شو ددی مخنیوی پخپل هیواد کی وکړو .

د یوی احصائی له مخی په جریان د ۱۹۹۰م کال په امریکا کی (۴۲۰/۰۰۰) مرګونه د سګرټ څکولو له کبله شوی د یو پرینځو (۱/۵) مرګونو مسؤل په امریکا کی اوس سګرټ څکول دی . تولدی معلومیږی چه سګرټ یوخطرناك شی دی . نوی څیړنی ښئی چه د تنباکو څکولو ارتباط یاعادت یو جنیتك ترکیب لری .

سګرټ څکونکی دوه چنده زیات د زړه د ناروغی له کبله مړی نسبت په سګرټ نه څکونکو ته اوسګرټ څکونکی لس چنده زیات د سږو په سرطان آخته کیږی نسبت سګرټ نه څکونکوته اوڅوچنده زیات سګرټ څکونکی د خولی د سرطان ، مری، پانقراس ، پښتورګي ، مثانه، عنق رحم په سرطان د اخته کیدوخطرلری .

دوه څخه تردری واری پوری د زخم معدی د واقع کیدو امکان شته (کوم زخم معده چه ژرنه ښه کیږی په تداوی سره نسبت هغوخلکوته چه سګرټ نه څکوی، د سګرټیونو د وینی (Leulemia) د ګولون (غټی کولمی) د پروستان سرطان څخه پیداکیږی.

اوهمدارنګه د Osteoporoscs یعنی د هډوکی رژیدل سبب هم کیږی . سګرټ څکول د شامی (د بوی کیدوحس) او د ذائقی حس خرابوی .

سګرټ څښول د مغ ګونخی (چین خوردګی) زیاتوی. همدارنګه هغه ناروغان چه دیابت یا مرض شکر لری او سګرټ هم څکوي په نوموړو کسانوکی د Pxoteinuria (د پروتین موجودیت په ادرارکی) خطرزیات دی.

هغه ناروغان چي سګرټ څکوی او د سراوغاړی سرطان هم لری که چیری دوی ته رادیوتراپی وشی نوبه ځواب نه ورکوی . سګرټ حکونکی ٥څخه تر۸کالوپوری مخکی مری نسبت هغوکسانوته چه سګرټ نه څښوی .

هغه کسان چه سګرټ څکول بندکړی نو د مرګ خطرچه د زړه د احتشا (Infauction) له کبله پیدا کیږی په نر او ښځه کی کموي کوم چه دا ګلیلی شیریان (Coronary artery)(ناروغی ولری د (Ssrok) (C.V.A) واقعات کمیږی کله چي سګرټ څکول بند کړی.

همدا رنګه کوم کسان چه سګرټ څښول بند کړی نو Carotoid atherosilerous پرمختګ کمیږی ، همدارنګه مزمن براتشیت او د سږو وظیفه هم بهبود پیدا کوی ، همدارنګه په یو تحقیق کی ښودل شوی که چیری یوه ښځه د ۳۵ کلنی څخه مخکی سګرټ څکول بند کړی نو دری کاله د هغی د ژوند د اوږدیدوتوقع شته .

اوهمدارنګه د سړی د پاره دوه کاله د ژوند د اوږدیدو توقع شته . همدارنګه د سګرټ څکول که ٦٥ کلنی څخه مخکی هم بندشي نو د ژوند د اوږدیدوتوقع شته د هغوناروغانو کوچنیان چه سګرټ څکوي هغوی د پیدایښت وخت کی کم وزن لری . او ا کثره د تنفسی سیستم په انتانی ناروغیو آخته کیږی اوتنفسی سیستم ئی په ښه ډول وظیفه نه اجراکوی . اوپه همدی ډول د غوږ په مزمن انتان آخته وی. د یوی احصائی له مخی په امریکا کی دیه (۱۹۹۱) م کال کی ٪۲۵ بالغ خلك د سګرټ څکولو باندی معتاد وه او سګرټ څکول په ناریتوو کی عام دی نسبت ښځوته . د ۱۹٦٥ م څخه تر ۱۹۸۵م کال پوری ٪۱-۱ په اندازه کم شوی . ډاکتران کولای شی چی له خلکو سره مرسته وکړی چي سګرټ ونه څکوی او خلك دی ته تشویق کړی چه دسګرټ څکولو عادت پریږدی او د دی ناوړه عادت د شیوع څخه مخنیوی وکړی . اوهمدارنګه نوی ځوانان وپوهوی ترڅو دا ناوړه عمل شروع نکړی.

ډاکترباید د سګرټ څکولو د بندیدو د پاره لاندی مرحلی ددی ستراتیژی په مخ بوسی.

۱- اول ناروغ څخه باید پوښتنه وشی چه دی ولی سګرټ څکولوسره دلچسپی لری.

۲- ناروغ باید تحریك کړل شی ترڅوسګرټ څکول بند کړی .

۳- اوبیوه نیټه وټاکی ناروغ ته تر څو په مکمل ډول سګرټ په دغه نیټه بند کړی .

٤- ارهغه لازمه دارو چه د سګرټ څښولو د بندیدو د پاره ضروری دی باید توصیه شی .

۵- ناروغ ښه ډول په آینده کی تعقیب شی.

په یونږدی اوتازه څیړنه کی ښودل شوی کوم د سګرټومعتادین چه په تیرکال کی د سګرټ څکول د یوماهرډاکترلخوا پری بند شوی٪٤٤ خلکو بیا سګرټ څکول بند کړی .

Depress ناروغان یا په ساده اصطلاح هغه ناروغان چه د روحی فشارلاندی وی هغوی ته ډیرمشکله ده چه دسګرټ څکولو عادت ترك کړی او دهغوی روحی فشاریا Depressino نورهم زیاتیږی .

(د لومړی برخی پای)

که فرداجوانی نیاید زپیر

دحضرت محمد (ص) دویاړلو اصحابو دپیژندني په لړکی

حضرت زید بن خطاب

(رضی الله تعالی عنه)

درسول الله (ص) داویاړلي صحابي حضرت زیدبن خطاب دقریشو دېتوعدي دکورني غړي اودحضرت عمرفاروق (رض) مشر ورور ؤ چي دبعثت په لومړنیو کلونوکي په اسلام مشرف شوي ؤ . تروبري مودي پوري دمشرکانو له خوا په تعذیب کي ؤ مدیني منوري ته دهجرت په دوهمه قافله کي شامل ؤ اوپه قباء کي دحضرت رفاعه بن عبدالمنذر ترڅنګ یې هستوګنه غوره کړه .

حضرت زید دبدرله غزا څخه نیولي داحدترغزاپوري په ډیر شهامت برخه اخستي وه . داحد په غزاکي یې نه داچي زغروالي جامې نه وي اغوستي بلکي کمیس ئي هم کښلي ؤ . کله چي عمرفاروق (رض) دي په دي حالت ولید ژر ورغي اوخپله زغره یې ورواغوستله خویبرته ئي وکیښله خو چي حضرت فاروق (رض) ورڅخه دعلت پوښتنه وکړه په حواب کي یې زیدبن خطاب وویل :« عمره ! ځاله مخي لیري شه . که ستاپه زړه کي دشهادت مینه شته ځماپه زړه کي هم دشهادت هیله شته . زغره یه هغه څوك اغوندي چي له ژوند سره مینه ولري خوماخپل ژوند دحق په لاره کي پلورلي دي ». حضرت عمرفاروق (رض) یې ځوابه راستون شو چي شهادت یې په دي غزاکي په نصیب نه ؤ ژوندي راستون شو .

حضرت زیدبن خطاب وروسته بیا دخندق ، دمکي دفتحي په سفر ، دحنین اوطایف په جنګونو اوپه بیعت الرضوان کي درسول الله (ص) ملګرتیاوکړه . دپیغمبر(ص) له رحلت نه وروسته یې دحضرت ابوبکر په خلافت کي دارتداد پرضد په تیره بیا دمسلمه کذاب دیامي جګړي په بهیرکي برخه واخسته واتي چي دي د ۱۰۰۰۰ مجاهدومسلمانو علمبردارؤ چي دمسلمه کذاب د ٤۰۰۰۰ تنویه مقابل کي جنګیدل . دیامي په جګړه کي چي دمسلمه کذاب لښکري دمسلمانانو څلورچنده وي ژډدي ؤ چي مسلمانان ماتي وخوري نوحضرت زید په لوړاواز وویل : اي مسلمانانو، تاسي دخداي لښکریاست اوستاسي دښمنان دشیطان ډله ده . عزت دالله له پاره دالله درسول له پاره اودالله دلښکردپاره دي . ځما پیروي وکړي زه چي څه کوم . هغه وکړي، توره په لاس یې په مرتدانو حمله وکړه دهغوي لیکي ئي تارومارکړي اوو یې څغلول خوپه پاي کي مرتداتوزیدبن خطاب (رض) محاصره کړ اودشهادت لوړمقام اوهېلي ته دمیراني اوتوري په حالت کي ورسید .

دغه جګړه دخالدبن ولیدپه تدبیرداتلومجاهدو صحابه ووحسي بن حرب اوعبدالله بن زید انصاري په لاس دمسلمه کذاب په وژلو پاي ته ورسیده . دحضرت زید بن خطاب شهادت حضرت عمرفاروق (رض) سخت غمګین کړدهغه دشهادت دخبرپه اوریدو یې وویل :« زید دوښیګیوپه مینډلو کي له مانه وړاندي شو چي یوداسلام په راوړلو اوبل دشهادت دجام په څښلوکي » ده به دزید په یادویل : « دسباوون ورمه چي چلیږي ماته له هغي نه دزید دخوشبوي ورمه راځي اوپه زړه کي مي دهغه یادتازه کیږي ».

حضرت عمرفاروق یوځل دعربو له یوه نامتوشاعرڅخه دشاعره ورور په باب یوه مرثیه واوریده شاعرته یې وویل که مامرثیه ویلاي شواي مابه هم دخپل ورور دپیلتون په باب ویلي وه . دي نامتوشاعر متمم عرض وکړ، امیرالمومنینه : که زما ورور ستا دورور په شان دجهاد په میدان کي شهید شوي وای نومابه هیڅکله په هغه پسي اوښکي نه واي توي کړي .

حضرت عمرفاروق (رض) متمم شاعر وفرمایل : « تاچي په دي خبره ماته کوم تسلیت راکړ له دي نه مخکي ماته هیڅ چاداسي تسلیت نه ؤ راکړي » . موږ داسلام ددغواتلانویه یاد اوکارنامو سره هغوي ته همدومره دعاکولي شو چي : « رضي الله تعالي عنه ».

دُرنامه

* اگر میخواهید زندگي راباخوشي بگذرانید، نیت وکردارتانرا نیك سازید .

* چون حرف بیرون شده ازدهن بازنمي گردد، کوشش درحراست زبان ازیدي نمائید .

* اشخاص زحمتکش هرگزبه فقرومسکنت مواجه نمي شوند .

* وقتي میخواهید بااطمینان خاطروقلب آرام زندگي به سربرید راستي ودرستي اختیارکنید .

* وقتي به انجام کاري مي پردازید ازتردد بپرهیزید وازصمیم قلب به آن اقدام کنید اگرکامیابي هم دست ندهد درحقیقت به کامیابي دست یافته اید .

* هیچ انساني ازعیب خالي نیست، اگراحیاناً شخیص پابه عرصه وجود آورد که از عیب خالي باشد، جمله عالم به او حسد خواهد ورزید ومورد نفرت همه قرارخواهد گرفت .

* بدي بخاطرضررش ممنوع قرارداده شده است .

نبوی لارښوونې

له حضرت طلحه ابن عبیدالله (رض) نه روایت دي چي دنجد دعلاقي یوسړي چي سربي ببرو (یعني مزل یې کړي و، دلیري نه راغلي و) دحضور(ص) په خدمت کي حاضرشو(لیري نه یې ئې خبره کوله) موږیې آواز اوریدو، خو په خبره یې نه پوهیدو. چي حضور(ص) ته رانژدي شو(نوپه خبره یې پوه شو) داسلام داحکامو پوښتنه یې کوله حضور(ص) ورته وفرمایل : پرتاباندې په یوه شواروزکي پنځه لمونځونه فرض دي . هغه وویل، دي نه زیات نورهم شته ؟ حضور(ص) وفرمایل : فرض نورنشته البته که نفل کوي (نوستاخوښه ده) .

(دحدیث پاتي برخه په بله ګڼه کي)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۳۲۱) سال نزدهم چهارشنبه (۱۷) دلو ۱۳۷۵

قیمت یك شماره (۱۰۰۰) افغانی (۳ روپیه)

احکام دین خودرابیاموزیم

آداب واحکام خطبه

۵ – دردوران خطبه خاموش نشسته وباتوجه وحضور دل، شنیدن خطبه واجب است خواه شنونده نزدیك خطیب باشد یادور نشسته باشد .

٦ – دروقت خطبه نزدیك خطیب نشستن ، وروي بطرف خطیب نمودن مستحب است. درحدیث شریف است، که درخطبه حاضرشو ونزدیك امام بنشین .

۷ – وقتیکه خطیب براي خطبه دادن ایستاده شود، پس بعد ازآن نه نماز خوانده شود، نه صحبت گردد، در دوران خطبه نماز خواندن، گفتگو کردن به ذکرو تسبیح مشغول شدن ، خوردن ، نوشیدن، سلام کردن، سلام راجواب دادن وآن کاري راکردن که درشنیدن خطبه خللي پیش آید، مکروه تحریمي است . در دوران خطبه براي کسي احکام شرعي راگفتن وتلقین به نیکي کردن، نیز ممنوع است .

مذاکرات بعدی تاجك ها درمسکو برگزار می شود

شهردوشنبه – ۱٦ دلو :

ادامه مذاکرات صلح تاجکستان به پیشنهاد سازمان ملل متحد درمسکو برگزارخواهد شد .

قرارگزارش خبرگزاري « ارنا » دولت عثمان یکی ازرهبران مخالفان دولت تاجکستان روزگذشته در دوشنبه گفت انجام دیدار ومذاکرات بین رهبران دوجناح اصلی تاجك قبل از آغاز دوربعدي گفتگو هاکه قرار است به تاریخ ٦ حوت سال جاري برگزارشود، ضروري است .

وي مذاکرات اخیر نمایندگان دولت و مخالفان تاجك درتهران رامثبت ارزیابي کرده گفت بازشدن برخي راه هاي ارتباطي کشور، برقراري آتش بس وفعالیت ارگان هاي قانوني درمناطق درگیري ازجمله موارد اجراشده درمدت پس از امضاي قرارداد صلح تهران است .

دمسکو دحسن قرائت

په مسکو کی د بی ، بی ، سی خبریال لطیف بهاند د قرائت ددی مسابقی په اړه په خپل رپوټ کی وایی ، قرآنکریم د تلاوت په هغه مسابقه کی چې د روژې د مبارکی میاشتی په ویاړ په مسکو کی د ۲۷ اسلامی هیوادونو د سیاسی نمایندګیو د هیئتونو او د روسیی د فدراسیون د اسلامی مرکزونو په ګډون په مسکو کی د مالیزیا د لوی سفارت په انګړکی شوی وه د څلوېښتو نه د زیاتو قاریانو د ولی نه افغانی قاری لمړی مقام او هغه پوری مربوط جوایزترلاسه کړل.

دغه قاری وایی زما نوم قاری عبدالغفار امیری دی ، زه په کابل کی پیداشوی یم خو اصلاً د ترکمن د دری یم . د قرآن شریف د تلاوت په هغه مسابقه کی چې په مسکوکې وشوه ، ګډون وکړم او الحمدلله ما دخپل هیواد افغانستان اوخلکو لپاره لمړی مقام ترلاسه کړ .

د دی سوال په ځواب کی چې تاسی په مسکوکی د افغانی مهاجرو په منځ کی شاګردان هم روزی قاری عبدالغفار امیری وویل : بلی! زه د افغانی مهاجرینو په منځ کی تقریباً ۳۰ تنه شاګردان لرم .

قاری امیری نه یواځې په دغه مسابقه کی لمړی مقام ګټلی بلکه هغه د جایزی په توګه یو زینتی قرآنکریم او یو ارزښتمن کپ هم ترلاسه کړیدی .

د جوایزو برسیره افغانی قاری ته د بنګله دیش د هیواد پایتخت ډاکې ته د یو ورځنی سفر امتیازهم ورپه برخه شویدی، چې د سفرټول مصارف بی د مالیزیا د سفارت لخوا ورکول کیږي .

پاتی دی نه وی چې د قرآن شریف د تلاوت پدغه مسابقه کی په افغانستان برسیره د سعودی عربستان، مصر، ایران ، پاکستان ، چاد ، سودان ، مالیزیااوځینی نورو هیوادونو استازوهم برخه درلوده .

دقرآن عظیم الشان دنزول

همیشنیو تعالیمو په باب په تفصیل سره خبری وکړی او د لوی خدای (ج) له دربارنه یی د محمدی غرا شریعت د بشپړعملی کیدو او د سراسری سولی لپاره دعاوی وکړی.

په رپوټ کی ویل شوی چې د قرآن عظیم الشأن دغه جشنونه د کابل پوهنتون د دافع هرابعلیمی مرکز ، او د قلعه موسی د نورآباد په جوماتو کی وشول .

هند سرحداتش با

انتخابات هندگفت : این اقدام به منظور پیشگیري ازهرگونه پیش آمد احتمالي درانتخابات آینده مجلس قانون گذاري صورت گرفته است .

این کمیسیون افزود به منظور مطمئن شدن ازبرگزاري آرام انتخابات وجلوگیري ازحملات احتمالي وقاچاق سلاح به داخل پنجاب هند عملیات تلاشي گسترده ئي نیز درین ایالت آغازشده است.

قابل یاد آوریست که انتخابات مجلس قانون گذاري ایالت پنجاب هند روز جمعه آینده برگزارمیشود که درآن ٦۹۳ نامزد براي احراز ۱۱۷ چوکي مجلس ایالتي مبارزه خواهند کرد .

نتایج انتخابات ردعمل

خوانده است .

رادیو تهران ضمن تبصره شب گذشته خویش راجع به پایان انتخابات عمومي وپیامد هاي آن متذکرشد که نتایج انتخابات نه تنها عکس العمل اعضاي اسامبله عمومي بلکه رد عمل مردم پاکستان را نیز منعکس مي گرداند .

تبصره به نقل از ناظران امور اوضاع خاطرنشان گردانیده که رایدهي اکثر گروههاي سیاسي در پیروزي حزب مسلم لیگ برهبري میانوازشریف درخوراهمیت بوده وبی تاثیرنمی باشد .

درتبصره تذکربه عمل آمده که بیانیه رادیوتلویزیوني سردارفاروق احمد خان لغاري رئیس جمهورپاکستان یکروز قبل از تدویر انتخابات عمومي مبني بر حساسیت شرایط وزمینه مساعد براي برگذاري انتخابات نیز بااهمیت خوانده مي شود .

دراین حال بي نظیربوتو صدراعظم برکنارشده پاکستان که به فساد اداري متهم گردیده قبل ازبرگزاري انتخابات اعلان کرده بود که عملیه انتخابات رامختل خواهد ساخت ازهمین جهت بیش از (۲۵۰۰۰۰) پولیس وعساکر اردوي پاکستان براي انجام عملیه انتخابات درمراکز وحوزه هاي مختلف راي دهي درسراسر پاکستان جابجا شده بودند تاازهرگونه ناآرامي احتمالي جلوگیري به عمل آورده باشند .

رافل د

د وا شنګتن اوتاشکند ترمنځ د اړیکو له یوی اوږدی سړي دوری نه وروسته دغه دواړه ملکونه له یلی هروخت نه سره نژدی کیږي . امریکا چې تل دبشری حقونو د ځپلو په سر د ازبکستان په چارواکو نیوکی کولې ، په پای کی یی له دغه هیواد سره د سوداګری او اقتصادی اړیکو پراختیا ته لار پرانیستله یو مهم دلیل چې واشنګتن یی ددغسی یو ترون د لاسلیك کولوته اړکړ هغه دول دی ، چې ازبکستان یی اسلامی تحریکونو په کمولو او په سیمه کی د ایران د نفوذ په کمولوکی لرلی شی .

ازبکستان هم له دغسی مرستونه طمع لري ، داهیواد چې د جنګ ځپلی افغانستان او تاجکستان ګاوندی دی او تل دخپل امنیت د ساتلو او له ګاوندیو هیوادونه د نشه یی شیانو د قاچاق د مخنیوی له ستونزو سره مخ ؤ ، هیله لري چې دغه ستونزې به د امریکې په مرسته کمی کړي.

خواره شوی رپوټونه وایی چې تاشکند ته امریکا د بهرنیو چارو وزارت د مرستیالی واین رافل د دری ورځنی سفر په ترڅ کی به د دوه اړخیزه اړیکو د مسئلو ترڅنګ همدامی خبری په پراخه توګه څیړل کیږي .

د ازبکستان د جمهور رئیس اسلام کریموف یو ویاند قدوس اعظموف تائید کړه چې هیوادیی د تاجکستان او افغانستان د حالاتو په وجه سخت اندیښمن دی او غواړي دغه اندیښنی د امریکایی هیئت غوږوته هم ورسوي .

ویاند پدی برخه کی نورڅه ونه ویل خو دافغانستان په اړه یی زیاته کړه چې تاشکند به یو حل پیدا پدی هیواد کی د اوربند اوسیاسی خبرو د پیل وراندیزوکړی . قدوس اعظموف د اسلام کریموف له خولی رپوټ ورکړ چې ازبکستان د هیڅ یو هیواد او پدی لړکی د افغانستان اوتاجکستان په چارو کی د لاس وهنی نیت نلري

ادامه جنگ ، انفاذ

طالبان راعامل ادامه جنگ وعملکرد هاي آنان را خلاف قوانین اسلامي وشرعي توصیف کردند .

دراین اجتماع باانتقاد ازعملکرد هاي طالبان، از شوراي دفاع افغانستان حمایت به عمل آمده است .

لازم به تذکر است که برخي نمایندگان استاد رباني درخارج از کشوراخراج اهالي پروان وکاپیسا توسط طالبان را محکوم کرده وخواستار اقدامات جدي سازمان ملل متحد گردیده اند .

اماطالبان مي گویند که بیرون کشیدن اهالي این ولایت بمنظور حملات احتمالي قواي مخالف برمردم بیدفاع به عمل آمده است

درانگلستان ۱۰۰ محراب

[illegible] انگلستان پرداخته است علاوه برآن توسعه وتزئین ۱٦۰ محراب مسجد دیگر که قبلاً اعمارشده اند مدنظراست . هم اکنون درانگلستان یکهزار محراب مسجد موجود است .

منبع افزود مساجدي که قرار است بنا گردند، مطابق طرح کلاسیك اسلامي اعمارخواهند شد که شامل محوطه مرکزي بزرگي براي اقامه نماز ومناره ها خواهند بود، یکي از طرح هاي مورد نظرشبیه به ساختمان مسجد اقصی است .

نیروهای حزب

علاوه برکوتل شبر درمناطق سرخ پارسا وشیخ علي که درغوربند موقعیت دارد مستقراند وگزارشات رسانه هاي خبري مبني بر سقوط ساحات تحت کنترول حزب وحدت بدست طالبان عاري ازواقعیت مي باشد.

وي درپاسخ به این پرسش که طالبان مي خواهند باتصرف کوتل شبر راه پیشروي خود را بطرف شمال غرب افغانستان بولایات سمنگان وبلخ بازنمایند؟ گفت : این تصوراشتباه است ومابعید مي دانیم که طالبان چنین اشتباهي رامرتکب شوند .

مامعتقدیم که نیروهاي حزب وحدت درخطوط مقدم جبهه درصورت تهاجم طالبان ازساحات تحت کنترول خود ومردم منطقه دفاع مي نمایند .

سخنگوي حزب وحدت اسلامي درمورد مذاکرات حزب وحدت باطالبان اظهارداشت که تاهنوز هیچگونه مذاکره ومرافقه اي بین طرفین به عمل نیامده است،

ازاوپرسیده شد که آیا حزب وحدت درآینده نیازي به مذاکره باطالبان ندارد تاطالبان پیشروي خود بسوي بامیان رامتوقف گرداند، وي تصریح کرد که شوراي عالي دفاع افغانستان مکرراً اصرارمي ورزد که جنگ ودرگیري راه حل بحران کشورنبوده باید طرف هاي متخاصم مشکلات خودرا از طریق مصالحه ومفاهمه مرفوع گردانند .

ارزش پول افغانی

قرارگزارشهاي رسیده از شهرکابل دربازار ارز این شهر روزگذشته هردالر امریکادرمقابل (۲۱۰۰۰) افغاني مبادله میشد که درحدود (۳۰۰۰) افغاني کمتراز روز هاي گذشته بوده واین قیمت در روزشنبه گذشته (۲٤۰۰۰) افغاني هردالر بود که به این ترتیب درحدود ۱۲ درصد وضع افغاني درمقابل دالر بهبود یافته است .

قرارگزارش روزگذشته یك روپیه پاکستاني درمقابل ۵۲۰ افغاني معامله شد که ٦۰ افغاني کاهش داشت که در روزشنبه گذشته هر روپیه پاکستاني درمقابل ۵۸۰ افغاني مبادله شده بود .

به تعقیب پیشروي هاي اخیر طالبان به جانب ولایات شمال کشور ارزش پول افغاني درمقابل اسعارخارجي بهبود یافته و دربازارها درقیم اجناس نیز کاهش قابل ملاحظه احساس مي شود .

نمی توان پیش

رادیومسکو بانقل قول ازه الکسي پریشکن » یکتن ازتحلیلگران روسي درمورد ادامه جنگ هاي اخیر ونتایج آن تبصره نموده درحالي که عملیات طالبان به استقامت شمال کابل را موفقانه توصیف کرده متذکر شده که یکي ازعلل عمده پیشروي طالبان ، ناهم آهنگي واختلاف بین ائتلاف ضدطالبان مي باشد .

تبصره یاد آورشده که طالبان درحال حاضر مصروف مستحکم ساختن مناطق متصرفه بوده وبراي تهاجم تازه برسایر ساحات تحت کنترول شوراي دفاع افغانستان آمادگي مي گیرد .

ده ها خانواده

درمورد مشکلات روزافزون مهاجرین گفت که روزبروز تقاضاي مهاجرین از ادارات مختلفه سازمان ملل متحد بیشترمي شود زیرا افزایش فقر، گرسنگي ، بیماري وعدم سرپناه طي یکماه اخیر هراتسان بشردوست را تکان مي دهد .

این مهاجر افزود که درکمتر ازیکماه گذشته بیشتر از۱۵ نفرکه به اثر شدت سرماوبیماري جان باخته انددرکمپ ناصرباغ دفن شده اند .وي از مهاجرین سابقه افغان تقاضا کرد که بحال مهاجرین تازه وارد دل بسوزانند وازایجاد مشکل براي مهاجران تازه وارد خودداري کنند وکمیساري عالي سازمان ملل نیز کمك هاي انسان دوستانه خودرا براي آوارگان جنگ هاي اخیر افزایش دهد .

دراین حال احمدالله یکتن ازمهاجرین افغان که چندي قبل ازجوارمیدان هوایي خواجه رواش کابل وارد پشاور گردیده درگفتگوبارادیو مشهد مشکلات مهاجرین درکمپ ناصرباغ را طاقت فرسا توصیف کرده گفت که اکثرمهاجران درماه مبارك رمضان بدون داشتن سرپناه درفقر وگرسنگي بسرمي برند ومقامات سازمان ملل متحد بمشکل مهاجرین رسیدگي نمي نماید .

احمد الله درمورد مهاجرتش به پشاور یاد آورشد که وي همراه با دوازده نفرازاعضاي فامیلش به علت بحران اقتصادي وافزایش قیم مواد خوراکي مجبوربه ترك خانه وکاشانه اش ازکابل به پشاور شده است .

نامبرده از پولیس سرحدي تورخم شکایت کرده افزود که پولیس مهاجرین راهنگام عبور از سرحد اذیت نموده ازنزد آنان پول اخذ مي کند .

محمدکریم یکتن دیگراز مهاجران تازه وارد اظهارداشت که وي ازکارته مامورین دوهفته قبل باخانواده اش وارد پشاورگردیده و تاهنوز درحالت بي سرنوشتي درکمپ ناصرباغ بسرمي برد.

این مهاجرراجع به زندگي شهریان کابل گفت که طالبان درکابل امنیت را برقرار کرده اند اما قیمتي به اوج خود رسیده .

طالبان ازمجامع

ملاتعماني از پوهنتون هاي کشورهاي خارج مطالبه نموده که طالبان رادرجهت بازگشایي پوهنتون هاي کابل، هرات وننگرهار کمك نمایند تازمینه مناسب براي فراگیري تحصیل افغانها فراهم گردد .

وزیر تحصیلات عالي ومسلکي طالبان ابراز امیدواري کرد که دروازه هاي پوهنتون ها و مکاتب با آغازسال جدید تعلیمي مجدداً بازگشایي خواهدشد .

په جلال آباد

ویشل شوی دی او په پام کی ده چې یو شمیر نورو کورنیو باندی هم د وچی وړوډو کارتونه وویشل شی.

جامعه بین الملل

سیداحمد « غفوري » مسئول کمیته جهاني صلیب احمر درکابل وضعیت اقتصادي افغانها درافغانستان بخصوص شهرکابل رامصیبت بار توصیف کرده هشدارداد اگرمجامع بین المللي کمك هاي اضطراري خودرابه مردم افغانستان افزایش ندهد، فاجعه بشري بزرگي دامنگیر افغانها خواهد شد .

وي که بارادیو صداي امریکا صحبت مي کرد راجع به برقراري صلح وامنیت سرتاسري درافغانستان گفت که پیش بیني درمورد پایان یابي جنگ هاي کنوني درافغانستان مشکل مي باشد. لازم است کشورهاي خارج بدون انتظاربراي استقرار صلح وامنیت سراسري کمك هاي شان رابه مردم مستحق ومستمند افغانستان افزایش دهند .

مسئول اداره جهاني صلیب سرخ درکابل افزود که جهانیان نباید افغانستان را بیاد فراموشي بسپارند زیرا اکثر افغانهاي بي بضاعت متکي به کمك هاي بشري جامعه بین المللي مي باشند .

دنوازشریف مسلم

(۲۰۱) حوزو نتایجو معلوم شوی ود چې د هغې له مخه د نوازشریف په مشری مسلم لیګ ګوند (۱۳٦) دهغه حلیف عوامی نیشنل ګوند (۹) کرسی ، پخوانی صدراعظمی بی نظیربوتوپه مشری د پاکستان د خلکوګوند (۱۹) کرسی ، د مهاجرو قومی حرکت (۱۲) کرسی ګټلی دی . همدارنګه یو شمیر غیرګوندی آزادو کاندیدانو او د څینوړو ګوندونو کاندیدانو مجموعاً(۱۹) کرسی ترلاسه کړی دی .

خبری منابع وایی د انتخاباتی حوزو د نتایجو څخه داسی څرګندیږی چې د پخوانی صدراعظمی بی نظیر بوتو ګوند د خپل اصلی رقیب مسلم لیګ په مقابل کی سخته ماتی خوړلی ده ، او برعکس د مسلم لیګ ګوند مشران وایی چې د دوی د بریالیتوب کچ په خپله دوی ته هم حیرانونکی دی .

خبری منابع رپوټ ورکوی ، همدارنګه د ایالتی اسامبلو د انتخاباتی حوزو نتایج ښکاروی چې د نوازشریف پرمشری مسلم لیګ ګوند د پنجاب په ایالت کی بشپړ اکثریت ګټلی دی . رپوټ وایی ددی ایالت د اسامبلی لپاره (۲۱۳) کرسی یوازې مسلم لیګ ترلاسه کړی چې په مقابل کی د بی نظیر بوتو د خلکو ګوند یوه کرسی د حامد ناصرچته په مشری مسلم لیګ یوه کرسی او آزادوکاندیدانو او وړوګروپونو مجموعاً (۲۲) کرسی ګټلی دی .

په همدی بڼه د سند ایالت د اسامبلی په انتخاباتو کی د پاکستان مسلم لیګ (۱٤) کرسی، د بی نظیربوتو د خلکوګوند

مستقلو

ګرځنده خلکو دا تائید کړه چې طالبانو دغوربند په دره کی ۷۰ کیلو متره پرمختګ کړی او دوشیخ علی« ترسیمی رسیدلی دی.خو دوی لاهم په هغو سیموکی چې نوی یی نیولی دی پوره خوندی نه دی .

د طالبانو پوځیانو وویل : یو شمیر مخالفینو و لود دری په استقامت د دوآب کلی په لویدیځ کی له وسلو سپارلو سرغړولی دی او د وسلو سپارلو پرځای غونډیو ته تیښتیدلی دی خو طالبان وایی که چیری جګړه مارترټاکلی وروستی نیټې پوری چې د پرون ورځې وروستی وخت ؤ . تسلیم نه شی او خپلی وسلی دوی ته ونه سپاری نوجګړه به ورسره وکړی کله چې طالبانو په دی دره کی چې د میوولو باغونو، شولو اوله ځینوکلیوڅخه ده ، پرمختګ وکړ جګړه لږه . "د پخوانی حکومت ځواکونه چې د طالبانو مخالفت کوی دلته مقاومت نه کوی ، دهغوی پرځای طالبان یواځې له سیمه ایزو غلچکو ولو سره مخامخ شوی چې له هغوسیاسی ګوندونو سره یی کمزوری باړنګی بنګی اړیکی لرلی ، چې پخوانی حکومت یی جوړاوه .

دا دي جګړه غونډی نه ده ، بلکه د طالبانو لخواعملیاتونه ویره وړتیه ده . چې له هغو جګړه مارو وسلی ټولی کړی چې دیروخت یی په سیمه کی واك درلود. بل لخوا ویل کیږی چې له ترلږه د دوآب ترکلی د طالبانو راتګ ته ولسی خلك هرکلی ویلی دی . دا خلك د غلچکو ولو لخوا د کلونو، کلونو ناوړی اداری څخه ستړی شوی وو .

په غوربند دری کی به د طالبانو پرمختګ هلته نوراهمیت ترلاسه کړی چې که چیری دوی لویدیځ پلونوورهم پرمختګ وکولایی شی . دوی به هغه ځای ته ورسیږی چې شمال پلو د اوښتو جوګه شی، له غرو د اوښتو څخه وکړی او په شمال کی د قوماندان جنرال دوستم تر واك لاندی سیمی ته ګرایش وکړی .

بل خو دطالبانو د پوځی ځواك یوه منبع وایی چې دوی ددی جګړو په ترڅ کی له خپلو مخالفینو څخه یو محاربوی ماشین یو ضرب D.C توپ ، څلور عرادی زغره وال ټانکونه او یوه د (B.M) دولس دستګاوی او یو زیات مقدار تورمهمات هم [illegible]

(۳۱) کرسی ، د مهاجرو قومی حرکت (۲۸) کرسی او د میرمرتضی بوتو د ګوندی غنوی بوتو ولی (۲) کرسی ترلاسه کړی دی .

د سرحد ایالت د انتخاباتی نتایجو په هکله رپوټ ورکړل شوی چې د نوازشریف مسلم لیګ ګوند (۳۰) کرسی، د عوامی نیشنل ګوند (۲۸) کرسی د بی نظیربوتو د خلکو ګوند څلورکرسی، د مولانا فضل الرحمن ولی یوه کرسی او آزادو کاندیدانو (۱۰) کرسی ګټلی دی .

د بلوچستان ایالت د اسامبلی د انتخاباتو نتایج پدی ډول دی ، د بلوچستان ملی ګوند (۸) کرسی ، دیموکراتیك وطنی ګوند (٦) کرسی ، د مولنا فضل الرحمن ګروپ (٦) کرسی د نواز شریف مسلم لیګ (۳) دبی نظیربوتو د خلکوګوند (۱)کرسی او آزادو کاندیدانو(۷) کرسی ګټلی دی .

د خبری منابعو د رپوټ په اساس د پاکستان په سږنیو پارلمانی انتخاباتو کی د خلکو دلچسپی ډیره کمه وو ، د رایو ورکولو مرکزونه اکثره خالی وو ، او د سیاسی ګټونکو او څیړونکو په عقیده د پاکستان دنفوس د رایه ورکونکو تثبیت شویو افرادو څخه یوازې (٤۵) یا (۵۰) فیصده خلکو خپل درائی ورکولو حق استعمال کړ.

بل خوا د دی انتخاباتو په نتیجه کی د پاکستان یوه مشهورشخصیت او د نوی سیاسی ګوند مشر پخوانی کرکټر عمران سخته ماتی وخوړه . نوموړی چې د تحریك انصاف په نامه نوی ګوند جوړکړی ونشوکولای د ملی اسامبلی یا ایالتی اسامبلو حتی یوه کرسی هم ترلاسه کړی د انتخاباتو نتایجو تر اعلان وروسته په لومړی سرکی د خلکو ګوند مشری او پخوانی صدراعظمی بی نظیر بوتو د دغه انتخاباتو نتایج مسترد کړل او ادعایی وکړه ، چې په انتخابی نتایجو کی جعل کاری شوی ده . خو د پاکستان رادیو د رپوټ له مخی بی نظیر بوتو تیرمازدیګر له خبریالانو سره د خبرو په ترځ کی څرګنده کړه چې ددی ګوند به د ښاغلی نوازشریف له حکومت سره مرسته وکړی اوهڅه به وکړی چې دغه نوی انتخاب شوی اسامبله خپله ټاکلی موده پوره کړی .

د پاکستان مسلم لیګ ګوند مشر ښاغلی نوازشریف په لاهورکی د یوه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کی وویل : چې د دی انتخاباتو نتایج د دوی ترتوقع هم لوړ دی .

نوازشریف وویل : د ده په مشری راتلونکی حکومت به هڅه وکړی د عامو خلکو د مشکلاتو د حل لپاره دهیواد په اقتصادی نظام کی اصلاحات راولی د ګمرکی مالیی اوقرضی ورکولو سیستم ثم کړی ، بهرنی پانګه هیواد ته جلب کړی .

نوازشریف څرګنده کړه : د دی انتخاباتو نتایجو وښوده چې دپاکستان ولس د ده پرګوند (مسلم لیګ) باندی اعتماد کړی او د بی نظیر بوتو په مشری د خلکو ګوندیی په بشپړتوګه مسترد کړی دی.

نوازشریف د بی نظیر بوتو دغه تورونه رد کړل چې په انتخاباتو کی جعلکاری شوی ده . هغه زیاته کړه چې د اروپایی ټولنی د هیئت دا تصدیق چې د پاکستان د دی ځل انتخاباتو نتایج ، ددی هیواد د خلکو عکس العمل دی ، د بی نظیر دا ادعارد وی .

د یادونی وړ ده چې د پاکستان د پارلمانی انتخاباتو د څارنی اونظارت په غرض د اروپایی ټولنی یو هیئت دی هیواد ته راغلی چې د پاکستان په بیلابیلو برخوکی یی د رایی ګیری جریان وکوت او دهغی سالموالی اوصاف والی یی تصدیق کړ.

د پاکستان د وروستیو انتخاباتو نتایج ښکاروی چې د دی هیواد خلکو د بی نظیر بوتو په مشری د پخوانی حکومت اکثر لوړ رتبه ارکانو او وزیرانوته چې یوځل بیا یی اسامبلی ته ځان کاندیدکړی وو رایه ندی ورکړی . د بی نظیر بوتو په دوران کی د ملی اسامبلی ویاند یوسف رضاګیلانی ، د کورنیو چارو وزیرجنرال نصیرالله بابر، د بهرنیو چارو وزیرسردارآصف احمد علی، د بی نظیر بوتو شخصی سکرتره پیغله ناهید، د پنجاب لومړی وزیرسردار عارف نکیی د جمعیت العلمای اسلام د یوی ډلی مشر مولانا فضل الرحمن او ګڼ شمیر نورو معروفوشخصیتونو پدی ځل انتخاباتوکی ماتی خوړلی ده .

د پاکستان جمهور رئیس سردارفاروق احمد لغاری ویلی ووچې دری به د اقتدار په انتقال کی ځند رانه ولی . هغه دا هیله څرګنده کړی وه چې نوی حکومت او نوی اسامبله به خپل قانونی وخت پوره کړی .

حکومت اصول و

حکومت اسلامي وظیفه دارد که براي پاکسازي اذهان ازلوث بدي ها تبلیغات دامنه دار و جدي را راه اندازي نماید و عملاً نمونه هایي ازاشخاص وافرادي را به جامعه تقدیم بدارد که نمونه یي ازنیکي والگویي ازانسانیت بوده باشد، نه تنها علم به نیکویي ها داشته بلکه نیکي را ازقوه بفعل درآورده مجسمه یي ازنیکي باشد.

کسانیکه مدعي حکومت اسلامي اند اولین کارآنهاساختن شخصیت شان ازلحاظ نیك زباني، رحمدلي ، صداقت و وفابعهد است وازهمه مهمتر کارمند حکومت اسلامي نه تنها به فساد دست نمي یازد بلکه جامعه را ازفساد بازمیدارد وزندگي اش چون آیینه شفاف بوده و مورد اعتماد کامل معاشرانش میباشد .

(ادامه دارد)

آینده

یك کشور رانیرومند ومستحکم نمود، لاکن الحمدلله هیچ اساس ناسیونالیزم نژادي رانمي توان درپاکستان سراغ کرد تابه اساس آن بتوان به نیرومندي واستحکام این کشور پرداخت .

برصغیرهند شاید درتمام دنیا ازنظر نژادي مخلوط ترین مجموعه باشد که خلاصه آن پاکستان است، چنانچه درپاکستان نژاد هاي دراوري، آریائي ، منگول ، سامي وغیره وجود دارند ودرین خطه کدام نژاد خاص اکثریت وغلبه ندارد تاآن را اساس قرارداده بوسیله آن این کشور رامستحکم نمود.

۲ – ناسیونالیزم لساني؛

بعدازناسیونالیزم نژادي این عامل قوي ترین عامل دردنیا به نظرمي آید براي این نوع ناسیونالیزم هم میتوان دومثال ناسیونالیزم عربي وناسونالیزم بنگالي راپیش کرد ، ناسیونالیزم عربي که درگذشته دردنیاي عرب بحیث یك قوت استوارگردیده نه برنژاد چنانچه حامیان آن نه تنها مسلمانان بودند بلکه به سطح دانشمندان بیشتر عیسویان بودند حتي درآن یهودي هم حضورداشت، این ناسیونالیزم به کدام نژاد خاص هم مربوط نبود زیرا درشمال افریقا هم زمان عرب ها، قبطي هاوبربري ها موجود بودند که همه به اساس زبان عربي داراي یك احساس قوي نژادي بودند . چنانچه هرقدربااین فلسفه اختلاف داشته باشیم باید بپذیریم که یگانه عامل نیرومند ومحرکي که دنیاي عرب رادرمقابله با استعماراروپابه مقاومت وایستادگي واداشت ناسیونالیزم عربي بود .

لاکن ازین اعتبارهم نمي توان پاکستان راچنان تعریف کرد که درسراسرکشوریك زبان واحد وجوددارد ومیتوان مردم را به اساس آن جمع کرد وباعث نیرومندي و استحکام این کشورگردید .

خوښه ستا

عاطفی اومروت اوځوانمردی سره یوځل ته لاس اوږدکړی او احساس کمتری او برتری لمړی وغورځوی نو زموږ د رنځونو علاج فقط د یوی شپی کار دی نه د بیځایه کلونو منډو.